قرآني بيان

# د نوي اِسلامي کال شروع څنگه کول پکار دي ؟



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه
او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي
لاندې جوماتونو د پاره

**20-JUNE-2025**

## د جُمعَةُ المبارک

FOR ISLAMIC BROTHERS

د مَدَني مركزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 20 جون، كال 2025ء (23 ذو الـحجة الـحرام، كال 1446ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د نوي اِسلامي كال شروع څنګه كول پكار دي ؟

په دې بيان كښې به تاسو زده كړئ...

- د عاشورې د ورځې بركتونه
- ګناه پهٔ خپل ځان باندې ظُلم دے
- خومره قومونه وو چې تباه كړے شو!!
- مُحَرّم الـحَرام څنګه تيرول پكار دي؟

پيشكش

اَلْـمَـدِيْـنَـةُ الْـعِلْـمِيَـة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback*** :+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

# د دُرُودِ پاک فضيلت

پۀ 22 سيپاره، سورۀ اَحزاب، آيت: 56 کښې الله پاک فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پاره:22، سورۀ احزاب:56)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه الله او د هغۀ فرښتے پۀ نبي باندې درود ليږي. اے ايمان والؤ! پۀ هغوئي باندې درود او ډير ډير سلام وليږئ۔

غَوثِ زمان، حضرت عبدُ العزيز دَبّاغ رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: د جنَّت پۀ اطرافو کښې چې کومې فرښتے دي، هغوئي هر وخت پۀ خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک ليږي، د دوئي د درود پۀ برکت باندې جنَّت فراخه کيږي، نۀ فرښتے د درود شريف نه غافله کيږي، نۀ جنَّت د نور فراخه کيدو نه منع کيږي۔ [1]

ذاتِ والا پہ بار بار درود
بار بار اور بے شمار درود
بے عدد اور بے عدد تسلیم
بے شمار اور بے شمار درود [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

1...الابريز، الباب الحادى عشر فى الجنة و ترتيبها...الخ، صفحه:489۔
2...ذوقِ نعت، صفحه:123 ملتقطاً۔

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ﳔ فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ

(پارہ:10، سورۃ التوبۃ:36)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مُحَرّم الـحَرام يو څو فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نوے اِسلامي کال ډير زر شروع کيدونکےدے، يو څو ورځې پس به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم!د مُحَرّم الـحَرام مياشت وليدلے شي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مُحَرّم الـحَرام ډيره د برکت مياشت ده- پۀ روايتونو کښې دي ته شَهرُ اللّٰه يعني د اللّٰه پاک مياشت هم وئيلے شوې ده ❁ پۀ حديثِ پاک کښې دي: يو ځل يو کَس بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض يـې وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د رمضان نه علاوه پۀ کومه يوه مياشت کښې روژې ونيسم؟ اوئې فرمائيل: که تۀ د رمضان نه پس پۀ بله يوه مياشت کښې روژې نيول غواړې نو د مُحَرَّم روژې ونيسه چې دا د اللّٰه پاک مياشت ده-[(1)] ❁ پۀ يو حديثِ پاک کښې فرمائي: اَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللّٰهِ الْمُحَرَّم يعنې د رمضان نه پس د ټولو نه افضلې روژې د مُحَرَّم د مياشتې دي کومه چې د اللّٰه پاک مياشت ده-[(2)]
❁ پۀ يو روايت کښې دي: د مُحَرَّم يوه روژه د 30 روژو برابر ده-[(3)]

## د يومِ عاشورې برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هسې خو ټوله د مُحَرَّم مياشت ډيره د برکتونو والا ده،

---

1...ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی صوم المحرم، صفحه:207، حديث:741 ملتقطًا-
2...مسلم، کتاب الصيام، باب فضل صوم المحرم، صفحه:424، حديث:1163-
3...معجمِ صغير، صفحه:664، حديث:963-

البته د دې 10 تاريخ کوم ته چې د يومِ عاشورا وئيلے شي، د دې ډېر برکتونه دي- د روايتونو مطابق ❀ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د عاشورې پۀ ورځ زمکې ته تشريف راوړے وو [1] ❀ پۀ دې ورځ باندې د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام کشتئ پۀ جُودي غر باندې ودريدلې وه ❀ پۀ دې ورځ باندې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا ته تشريف راوړے وو ❀ پۀ دې ورځ باندې حضرت ادريس عَلَيْهِ السَّلَام اسمان ته خيژولے شوے وو ❀ پۀ دې ورځ باندې د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مدد شوے وو او فرعون غرق کړے شوے وو ❀ پۀ دې ورځ باندې حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَام ته د مهي د خيټې نه نجات حاصل شوے وو ❀ حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام ته پۀ دې ورځ باندې بادشاهي عطا کړے شوې وه ❀ پۀ دې ورځ باندې حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د کوهي نه راويستے شوے وو ❀ پۀ دې ورځ باندې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دُنيا ته تشريف راوړے وو او پۀ دې ورځ باندې هغوئ ژوندے اسمانونو ته خيژولے شوے وو [2] او ❀ پۀ دې ورځ باندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نيازبين نمسي، د جنَّت د ځوانانو سردار حضرت امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عظيمُ الشانه قرباني ورکړې وه او د دِينِ اِسلام لازواله خدمت يې کړے وو يعنې د کربلا واقعه هم پۀ 10 مُحَرّم الـحَرام (يعنې د عاشورې پۀ ورځ) شوې وه-

بهر حال! دا ډيره د برکت مياشت ده- مونږ له دا مياشت څنګه تيرول دي؟ نوے اِسلامي کال څنګه شروع کول دي؟ پۀ دې باره کښې مونږه پۀ شروع کښې د قرآنِ کريم د يو آيت مبارک د اوريدو سعادت حاصل کړو، راځئ چې د دې وضاحت او د دې نه ميلاؤيدونکي سبقونه واورو:

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

علمائے کرام فرمائي: د جهالت پۀ زمانه کښې د عربو د خلقو دستور وو چې هغوئ

---

1...لطائف المعارف، وظائف شهر الله المحرم، المجلس الثانی فی يوم عاشوراء، صفحه:78۔

2...اسلامی مهينوں کے فضائل، صفحه:14 ملتقطًا۔

به اِسلامي میاشتې پۀ خپله خوښه مخکښې وروستو کولې، د اِسلام ډیر احکام د اِسلامي میاشتو سره تړلي دي، مثلاً د ذُو الـحِجَّه پۀ میاشت کښې حج ادا کولے کیږي، پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې روژې فرض دي، دغه شان د نورو ډیرو اِسلامي احکامو او حلالو او حرامو تعلق د اِسلامي میاشتو سره دے، که میاشتې مخکښې وروستو کړے شي نو ډیر اِسلامي احکام به بدل شي- څکه د جهالت د زماني دا د جهالت رسم ختم کړے شو او د اِسلامي میاشتو ترتیب برابر کړے شو- (1) ارشاد وشو:

| | |
|---|---|
| اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ (پاره:10، سورۂ التوبة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه د میاشتو شمیر د الله پاک پۀ نزد- |

یعنې اِسلامي کال د کوم تاریخ او میاشتې چې د سپوږمۍ پۀ حساب سره بدلیږي، د الله پاک پۀ نزد دا ټولې میاشتې څومره دي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا (پاره:10، سورۂ التوبة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دولس میاشتې دي- |

نۀ 13، نۀ 11 بلکې پوره 12 دي- نور فرمائي:

| | |
|---|---|
| فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ (پاره:10، سورۂ التوبة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د الله پۀ کتاب کښې- |

یعنې د دې میاشتو دا شمیره پۀ لَوحِ محفوظ کښې لیکلے شوې ده، د کله نه لیکلے شوې ده؟

| | |
|---|---|
| یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ (پاره:10، سورۂ التوبة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د کله نه چې هغۀ اسمانونه او زمکه جوړ کړي دي- |

سُبْحٰنَ الله! دا د اِسلامي میاشتو فضیلت دے- پۀ دُنیا کښې د میاشتو شمیره پۀ څومره لحاظونو سره کیږي، لکه څنګه چې نن سبا عام طور عیسوي تاریخ رائج دے خو د اِسلامي میاشتو شان ته وګورئ چې د میاشتو د شمیرې دا د ټولو نه پخوانے انداز دے چې الله پاک د زمکې او د اسمان د پیدا کیدو سره دا مقرر کړو او پۀ لَوحِ محفوظ باندې هم دا لیکلے شوے دے-

---

[1]... تفسیرِ نعیمی، پاره:10، التوبه، زیرِ آیت:36، جلد:10، صفحه:293 294 خلاصةً-

اَلْحَمْدُلِلّٰہ! اِسلام مونږ ته په دې حقيقي، د ټولو نه په ښخوانو او د اللّٰه پاک په نزد په مقبولو مياشتو باندې د خپل حساب کولو ترغيب راکړو، کاش چې مونږه د دې نعمت قدر وکړو او د اِسلامي مياشتو په لحاظ سره د خپل ژوند د تيرولو کوشش وکړو۔

خير! دا ټولې مياشتې 12 دي خو په فضيلت کښې دا ټولې برابرې نهٔ دي، بلکې

| | |
|---|---|
| مِنۡهَاۤ اَرۡبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ (پاره:10،سورۂالتوبة:36) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د هغې نه څلور مياشتې حُرمت والا دي۔ |

يعنې (1): ذُوالْقَعْدَہ (2): ذُوالْحِجَّہ (3): مُحَرَّم او (4): رجب، دا 4 مياشتې ډيرې د عزت والا، ډيرې د حُرمت والا دي۔(1)

| | |
|---|---|
| ذٰلِكَ الدِّيۡنُ الۡقَيِّمُ ۙ۬ (پاره:10،سورۂالتوبة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا صحيح دِين دے۔ |

يعنې په کال کښې 12 مياشتې کيدل او په دې کښې د 4 مياشتو د حُرمت (يعنې د عزت او احترام) والا کيدل، دا صحيح دِين دے، دا مِلَّتِ ابراهيمي دے۔ د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: په دې کښې دا تعليم دے چې د خپل ژوند حساب د سپوږمۍ په مياشتو وساتئ چې دا اللّٰه پاک ته محبوب دي۔ (2)

د دې نه مخکښې اللّٰه پاک د دې حُرمت والا مياشتو د تيرولو طريقه ښودلې ده، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَلَا تَظۡلِمُوۡا فِيۡهِنَّ اَنۡفُسَكُمۡ (پاره:10،سورۂالتوبة:36) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو په دې مياشتو کښې په خپلو ځانونو ظُلم مهٔ کوئ۔ |

هسې خو چې ګناه کله هم کولے شي هغه ګناه وي، ګناه وور دے، کوم چې صرف نقصان رسوي، البته دا 4 مياشتې: (1): ذُو الْقَعْدَہ (2): ذُو الْحِجَّہ (3): مُحَرَّم او (4):رجب۔ دا ډيرې د عزت والا مياشتې دي، په دې کښې ګناه کول ډير سخت جُرم دے او په دې

---

1... تفسيرِ خازن، پاره:10، التوبه، زيرِ آيت:36، جلد:4، صفحه:357 ملتقطًا۔

2... تفسيرِ نعيمی، پاره:10، التوبه، زيرِ آيت:36، جلد:10، صفحه:293 295 ملتقطًا۔

کېږي د نیکو ثواب زیاتولے کیږي، ځکه اے مسلمانانو! خاص طور پۀ دې 4 میاشتو کښې پۀ ګناه کولو سره پۀ خپل ځان باندې ظُلم مۀ کوئ...!!

## ګناه پۀ خپل ځان باندې ظُلم دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د قرآنِ کریم ځانګړے حکمت دے چې پۀ قرآنِ کریم کښې پۀ ډېرو ځایونو کښې ګناه ته ظُلم عَلَی النَّفْس (یعنې پۀ خپل ځان باندې ظُلم کول) وئیلے شوي دي- د دې نه مونږ ته دا سبق میلاؤیږي چې ګناه کوونکے اکثر که بعضې وخت دا ګڼي چې زۀ ډیر چالاک یم ❀ هغۀ خلقو ته پۀ دوکه ورکولو ❀ پۀ ناپ تول کښې پۀ کمي کولو ❀ پۀ دروغو وئیلو یا د دروغو پۀ قَسمونو خوړلو ❀ مال راټولوي او ځان چالاک ګڼي ❀ د نورو د تنګولو نوم بهادري ږدي خو که پۀ حقیقت کښې وکتلے شي نو هغۀ چا ته هم نقصان نۀ رسوي بلکې هغۀ پۀ خپل ځان باندې هُم پخپله ظُلم کوي چې خپل کمزورے ځان د دوزخ حقدار جوړوي-

## افسوس چې تاسو پۀ خپل قدر نۀ پوهیږئ!

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ (پارہ11، سورۂ التوبۃ:111) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه الله د مسلمانانو نه د هغوئې ځانونه او د هغوئې مالونه پۀ دې بدله کښې پۀ بیعه واخستل چې د هغوئې د پاره جنَّت دے- |

مشهور صُوفي بزرګ مولانا رُوم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې آیت پۀ وضاحت کښې فرمائي: وګورئ چې الله پاک تاسو، ستاسو وخت، ستاسو ځان، ستاسو مال او کاروبار پۀ بیعه واخستو چې دا څیزونه د هغۀ پۀ لاره کښې (پۀ نیک کارونو کښې) ولګوئ نو ستاسو د پاره همیشه پاتې کیدونکے جنَّت دے، د الله پاک پۀ نزد ستاسو داسې قیمت دے، که (ګناه

وکړېږ او، د الله پاک نافرمانی والا کارونه وکړېږ او) ځان د دوزخ پهٔ بدله خرڅ کړېږ نو پهٔ خپل ځان باندېږ ظُلم کوونکے يېږ- (1)

تُو بَه قِيمت وَرَائے دَوجهانے
چهٔ کُنَم قَدرِ خُوُد نَمِی دَانے

مفهوم: تهٔ د دواړو جهانو نه قيمتي يېږ خو څهٔ وکړم چې تهٔ پهٔ خپل قدر نهٔ پوهيږې-

## ګناه د الله پاک سره جنګ دے

حضرت اِمام حسن بصري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به فرمائيل چې اے اِبنِ آدمه! ستا دې هلاکت وي--!! آيا تهٔ د الله پاک سره مقابله کول غواړې؟ آؤ! آؤ! چا چې د الله پاک نافرماني وکړه لکه چې هغهٔ د الله پاک سره جنګ وکړو- (2)

| | |
|---|---|
| گناہوں سے مجھ کو بچا یااِلٰہی! | بُری عادتیں بھی چُھڑا یااِلٰہی! |
| خطاؤں کو میری مٹا یااِلٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یااِلٰہی! (3) |

## نافرماني د لعنت راوريدو سبب دے

پهٔ 6 سيپاره، سورهٔ مَائِدَه، آيت: 78 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

لُعِنَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡۢ بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ عَلٰی لِسَانِ دَاوٗدَ وَ عِیۡسَی ابۡنِ مَرۡیَمَ ؕ ذٰلِکَ بِمَا عَصَوۡا وَّ کَانُوۡا یَعۡتَدُوۡنَ ﴿۷۸﴾

(پارہ:6، سورۃ المائدہ:78)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بني اسرائيلو نه چې کومو خلقو کُفر وکړو پهٔ هغوئي باندې د داؤد او د عيسىٰ ابن مريم پهٔ ژبه لعنت وکړے شو- دا لعنت پهٔ دې وجه وو چې هغوئي نافرماني وکړه او هغوئي به سرکشي کوله-

---

1...کتابُ فِیۡهِ مَا فِیۡهِ، الفصل الرابع: کرمنا بنی آدم، صفحه:47-

2...عُیُون الحکایات، الحکایة الخامسة عشرة مع الزہاد الاوائل، صفحه:32 -

3...وسائِلِ بخشش، صفحه:100-

پهٔ دې آیت مبارک کښې ووئیلے شو چې بني اسرائیلو نافرماني وکړه، هُغه خلق پهٔ ګناهونو کښې د حده تیر شول، د الله پاک حدونه يـې مات کړل نو حضرت داؤد او حضرت عیسیٰ عَلَيۡهِمَاالسَّلَام پهٔ هغوئي باندې لعنت وفرمائیلو۔ څکه هُغه خلق پهٔ عذاب کښې راګیر شول ۔ (1) معلومه شوه چې د الله پاک نافرماني د لعنت راوریدو سبب دے۔

## پهٔ نافرمانه باندې د الله پاک لعنت

د حضرت وَهب رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه روایت دے، الله پاک د بني اسرائیلو پهٔ انبیاؤ کښې یو نبي عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي وفرمائیله: چې کله زما تابعداري کیږي نو زهٔ راضي کیږم او چې کله زهٔ راضي یم نو برکت ورکووم او زما د برکت هیڅ انتها نشته او چې زما نافرماني کیږي نو زهٔ غضب کووم او چې کله زهٔ غضب کووم نو لعنت کووم او زما لعنت 7 پیړو ته رسیږي۔ (2)

| | |
|---|---|
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جَہنَّم میں جلوں گا یارب! |
| عَفو کر اور سدا کے لئے راضی ہوجا | گر کرم کر دے تَو جنّت میں رہوں گا یارب! (3) |

## خومره قومونه وو چې تباه کړے شو---!!

آه! ❁ خوک چې د الله پاک نافرماني کوي ❁ پهٔ ګناهونو باندې کلک ودریږي او د خپلو ګناهونو د ښو ښکاره د پاره قِسما قِسم بهانې کوي ❁ سُود ته به منافع **(*Profit*)** وائي ❁ بے حیایۍ له به د جِدَّت نوم ورکوي ❁ بے پردګۍ له د فیشن **(*Fashion*)** نوم ورکوي، داسې نادانه دي، خو لږه اندازه ولګوي چې د چا نافرماني کوي---!! نن د ځانه پهٔ راجوړو

---

1...تفسیرِ نعیمی، پارہ:6، المائدہ، زیرِ آیت:78، جلد:6، صفحہ:624 خلاصۃً۔

2...اَلزُّھد لامام احمد بن حنبل، زہد نوح عَلَيۡهِ السَّلام، صفحہ:81، حدیث:289۔

3...وسائلِ بخشش، صفحہ:85 ملتقطاً۔

كړے شوو خبرو، پۀ چالاكۍ كولو، د ګناه پۀ نوم بدلولو، پۀ ظاهره د زړۀ پۀ غولولو كه خراب كارونه د خلقو پۀ نظر كښې ښه هم ښكاره كړې نو آيا د الله پاک پۀ حُضُور كښې به حاضري نۀ كوې؟ لږ سوچ خو وكړئ چې د كوم جبَّار او قهَّار نافرماني كوې، آيا هغۀ دې نۀ وينې؟ كه داسې ده نو بيا د دې زړۀ غولوونكو الفاظو څۀ فائده---؟ **ګناه خو اخر ګناه ده-** د ګناه انجام هميشه عبرتناک وي- الله پاک پۀ قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

وَ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍؕ وَ كَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِیْرًۢا بَصِیْرًا ﴿۱۷﴾ (پاره:15، سورۀ بَنِیْ اِسْرَآءِیْل:17)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او مونږه د نُوح نه پس څومره قومونه هلاک كړل او ستا رَبّ د خپلو بندګانو د ګناهونو كافي خبر لرونكے، ليدونكے دے-

الله! الله! هغه څنګه قومونه وو! هغوئي له پۀ دُنيا كښې عزت وركړے شوے وو، طاقت وركړے شوے وو، هغوئي مالداره وو، د هغوئي ډير غټ طاقتور وجودونه وو خو هغوئي نافرماني وكړه، ګناهونه يې كول، د نيكۍ د دعوت وركوونكو خبره يې نۀ اوريدله، ضديان شو، پۀ ګناهونو باندې كلک ودريدل او د توبې طرف ته رانغلل، اخر د قهَّار خُدائے غضب پۀ هغوئي باندې نازل شو او د هغوئي نوم او نشان د دُنيا نه ختم كړے شو-

## زړونه اړولے كيږي

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د الله پاک فضل دے، زمونږه د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كرم دے چې الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بركت د هغوئي اُمت نۀ رسوا كوي، مونږ كه ګناهونه هم كوو نو پۀ مونږ باندې د مخكښينو قومونو پۀ شان اجتماعي عذاب نۀ راځي، زمونږه مخونه نۀ ورانولے كيږي، دا اُمت د مخكښينو اُمتونو پۀ شان شادوګان او خنزيران نۀ جوړولے كيږي خو ياد ساتئ چې د الله پاک د نافرمانۍ نتيجه خو بهر حال راووځي- علمائے كرام فرمائي: د مخكښينو اُمتونو عذاب د

وجود خَسف او مَسخ وه (يعني مخکښينو اُمتونو چې به نافرماني کوله نو هغوئي به پهٔ زمکه وردننه کولے کيدل، د هغوئي مخونه به ورانيدل، د چا نه به شادوګان جوړيدل، د چا نه به خنزيران جوړيدل) خو د دې اُمت عذاب روحاني او نفساني خَسف او مَسخ ده، مخکښې به وجودونه بدليدل او اوس زړونه بدليږي - [1] الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| وَ نُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ وَ اَبْصَارَهُمْ (پاره:7، سورۀ انْعَام:110) | ترجمه كنزُالعِرفان: او مونږه به د هغوئي زړونه او د هغوئي سترګې واړوو- |
|---|---|

د الله پاک پناه! د الله پاک پناه! څومره د عبرت خبره ده، پهٔ ګناه کولو سره، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانۍ کولو پهٔ وجه زړونه اړولے کيږي-

## د زړهٔ د اړولے کيدو درې نخښې

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې آيت ذِکر کوي او فرمائي: د زړهٔ د خرابيدو 3 نخښې دي: (1): پهٔ تابعدارۍ کښې خوند نهٔ موندل (2): د ګناه نه نهٔ ويريدل (3): د چا د مرګ نه عبرت نهٔ حاصلول-[2]

دا درې واړه نخښې چې مونږ مخې کړو او د خپل زړهٔ پهٔ حالت باندې غور وکړو،نو نن زمونږه حالت هُم څهٔ داسې دے ❀ پهٔ ګناهونو کښې داسې خوند ميلاؤيږي چې ګينتې تيرې شي خو اِحساس راسره هم نهٔ وي ❀ آؤ! پهٔ نـمونځونو کښې زمونږه زړهٔ نهٔ لګي ❀ پهٔ فضول کارونو کښې چې مصروف يو نو د وخت راسره هډو فِکر نهٔ وي ❀ چې تلاوت ته څنګه کښينو نو کارونه راته رایاد شي ❀ چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک تشريف راوړي نو کله د ګرمۍ بهانه، کله د کار روزګار فِکر، ډير خلق دي کوم چې د روژو نيولو طرف ته هډو مائله کيږي نهٔ ❀ او د چا د مرګ نه د عبرت اخستو حالت خو داسې دے چې بعضې وخت خلق

1... تفسيرِ نعيمی، پاره:1، البقره، زيرِآيت:66، جلد:1، صفحه:454 بتغير قليل-
2... تفسيرِ نعيمی، پاره:1، البقره، زيرِآيت:66، جلد:1، صفحه:454 بتغير قليل-

په جنازګاه کښې ولاړ وي او په کړس کړس خاندي، د کرکټ په میچ او د ملک په سیاست باندې تبصرې کیږي، آه! زمونږه د زړه دا نازک حالت، د غفلت پردې، د زړه تور والے--!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له فِکر کول پکار دي چرته داسې خو نه وي چې د ګناهونو سپیرهٔ والي مونږه راګیر کړي یو، زمونږه زړونه اړولے شوي وي او زمونږ سره یې هډو اِحساس نه وي-

## نافرماني د ذِلَّت او د رسوايۍ سبب دے

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو! د الله او د رسول** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **نافرماني د ذِلت او د رسوايۍ سبب دے،** کوم ګس چې د الله پاک نافرماني کوي، توبه نهٔ کوي، د الله پاک طرف ته رجوع نهٔ کوي، هغهٔ د الله پاک پهٔ بارګاه کښې ذلیله او رسوا کیږي او د الله پاک پهٔ بارګاه کښې د هغهٔ هیڅ حیثیت نهٔ پاتې کیږي او کوم ګس چې د الله پاک پهٔ بارګاه کښې ذلیله او رسوا شي، د چا چې د رَبُّ العزَّت پهٔ بارګاه کښې هیڅ حیثیت پاتې نشي، د هغهٔ چرته هم عزت نهٔ نصیب کیږي- پهٔ 17 سیپاره، سوره حَج، آیت: 18 کښې ارشاد دے:

وَ مَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ
(پاره:17، سورهٔ حَج:18)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او چا لره چې الله ذلیله کړي نو هغهٔ ته هیڅ څوک عزت ورکوونکے نشته-

پهٔ تفسیر صراطُ الـجنان کښې د دې آیت لاندې دي: معلومه شوه چې عزت او نوم د یو قوم یا د یو ګس میراث نهٔ دے چې که یو ګس هر څومره هم **خراب کارونه** کوي، خپله اعمال نامه د ګناهونو نه ډکه کړي، د هغهٔ کردار پهٔ نافرمانو باندې داغداره شي، د دې باوجود هم هغهٔ پهٔ عزت سره ژوند تیر کړي--- نه! نه! داسې نهٔ ده بلکې څوک چې پهٔ خپلو اخلاقو او کردار، پهٔ نیکو اعمالو، خیر خواهۍ او همدردۍ خپل ځان د عزت حقدار جوړوي، الله پاک هغهٔ له عزت ورکوي او څوک چې پرله پسې پهٔ نافرمانو کښې اخته وي،

هغۀ د ذلت ژورې کندې ته غورځولے شي۔ (1)

## نافرمانۍ ذليله او رسوا کړو

حضرت جُبَير بن نُفَير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: چې کله مسلمانانو قُبرُص فتح کړو نو ما وليدل چې صحابئ رسول حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ يواځې ناست دے او ژاړي، زۀ د هغوئي پۀ خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې وکړو: عالي جاه! نن خو الله پاک مسلمانانو ته پۀ کافرانو باندې غلبه عطا کړې ده (يعنې نن د خوشحالۍ ورځ ده) او تاسو اوښکې توئيوئ؟ حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ وفرمائيل: اے جُبَيره! لګ غور خو وکړۀ---!! څوک چې د الله پاک نافرماني کوي، هغۀ د رَبّ پۀ حُضُور کښې څومره بے کاره شي۔ د قُبرص اوسيدونکي څومره د غلبې او د عزت والا وو، هغوئي د الله پاک احکام پريښودل، د خپل رَبِّ کريم نافرماني يې وکړه نو دا حال يې شو (چې نن هغوئي شکست وخوړو او هغوئي ذليله او رسوا شول)۔ (2)

## عزت صرف د الله پاک پۀ تابعدارۍ کښې دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې عزت صرف او صرف د الله پاک پۀ تابعدارۍ کښې دے، څوک چې د الله پاک نافرماني کوي، هغۀ ذليله او رسوا کيږي۔ د ټولو مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا يو ځل (د نصيحت نه ډک) خط وليکلو، پۀ هغې کښې يې وفرمائيل: بے شکه کوم کَس چې د الله پاک نافرماني کوي، د هغې پۀ سزا کښې د هغه کَس تعريفونه کوونکي خلق هم د هغۀ بد بيانول شروع کړي۔ (3)

---

1 ... تفسير صراط الجنان، پاره:17، الحج، زيرِ آيت:18، جلد:6، صفحه:418 و 419 بتغير قليل۔

2 ... اَلزُّهد لِاِمام احمد بن حنبل، زہد ابی الدرداء، صفحه:182، حديث:764 ملتقطًا۔

3 ... اَلزُّهد لِاِمام احمد بن حنبل، زُہد عائشه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا، صفحه:211، حديث:919۔

## ګناه بدن کمزورے کوي

حضرت امام حسن بصري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چې کله انسان نیکي کوي نو دا نیکي د هغهٔ په زړهٔ کښې نُور او په وجود کښې طاقت جوړيږي او **چې کله انسان ګناه کوي نو دا ګناه د هغهٔ په زړهٔ کښې تیارهٔ پیدا کوي او وجود یې کمزورے کوي۔** (1)

## نافرماني د افتونو او د بلاګانو سبب دے

الله پاک په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَیْدِی النَّاسِ لِیُذِیْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِیْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ (۴۱)

(پارہ:21، سورۃ الرُّوم:41)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: په وَجه او لـمده کښې فساد ښکاره شو د هغه بدو [کارونو] په وجه کوم چې د خلقو لاسونو وکړل چې الله هغوئي ته د هغوئي د بعضو کارونو خوند ور وَڅَکي د پاره د دې چې هغوئي را وګرځي۔

اَللّٰهُ اَکْبَر! معلومه شوه چې د الله پاک د نافرمانۍ او د ګناهونو په وجه په زمکه کښې فساد جوړيږي، قحط راځي، بارانونه نهٔ کیږي، فصلونه تباه او بربادیږي، وباګاني خوريږي او پته نهٔ لګي چې څنګه څنګه فسادونه په زمکه کښې ظاهريږي۔ (2)

## ځناور پرې لعنت وائي---!!

حضرت مُجَاهِد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چې کله سوکړه زیاته شي، بارانونه نهٔ کیږي نو ځناور په نافرمانو باندې لعنت وائي او وائي: **دا سوکړه د انسان د ګناهونو په وجه ده۔** (3)

1... موسوعه امام ابن ابی الدنیا، کتاب التوبه، جلد:3، صفحه:424، حدیث:197۔

2... تفسیر صراط الجنان، پارہ:21، الروم، زیرِ آیت:41، جلد:7، صفحه:453 خلاصةً۔

3... تفسیرِ بغوی، پارہ:2، البقرہ، زیرِ آیت:159، جلد:1، صفحه:130۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور وکړئ چې د دې نه به نور ذِلت څۀ وي چې انسان اشرفُ الـمخلوقات دے خو چې کله دا ګناه کوي، د دۀ نافرمانۍ د حد نه زياتيږي نو څناور کوم چې زمونږ نه ثو درجې کم تر دي، هغوئي هم انسان ته ردې بدې وائي- معلومه شوه چې څوک نافرمانه دي، **هغۀ د خپل فضيلت نه لاس وينځي او د انسانيت د درجې نه غورځيږي او د ذِلت ژورې کندې ته پريوځي-**

## کال پۀ ښه طريقه شروع کړئ!

بهر حال! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله کريم مونږ ته حکم راکړو:

| | |
|---|---|
| فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ<br>(پاره:10، سورۂ التوبة:36) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو پۀ دې مياشتو کښې پۀ خپلو ځانونو ظُلم مۀ کوئ! |

يعني د حُرمت والا پۀ دې څلورو مياشتو: ذيقعده، ذِي الـحِج، مُحَرَّم او رجب کښې هيڅکله هيڅکله هم ګناه مۀ کوئ! چې ګناه کوونکے که چا ته نقصان رسوي او که نۀ خو پۀ خپل ځان باندې ظُلم ضرور کوي- ګناه تَش سپيرۀ والے دے- ❀ ګناه د جنَّت نه د محرومۍ او د دوزخ د حقداره کولو سبب دے ❀ ګناه کوونکے لکه چې د الله پاک سره جنګ کوي ❀ پۀ ګناه کوونکي باندې لعنت وريږي او ❀ الله پاک دې معافي وکړي! کله دا لعنت د 7 پيړو پورې هم رسي ❀ د ګناه پۀ وجه باندې زړونه اړولے کيږي ❀ ګناه د ذلت او د رسوايي سبب دے ❀ او ګناه کوونکے داسې بد نصيبه دے چې پۀ دۀ باندې څناور هم لعنت وائي-

څکه مونږ له پکار دي چې مونږه هر وخت، هر ساعت، 24 ګينټې، 30 ورځې، 12 مياشتې بلکې ټول عمر د ګناهونو نه بچ اوسو، البته د حُرمت پۀ مياشتو کښې پۀ خصوصيت سره د ګناهونو نه بچ کيدل پکار دي چې پۀ دې مياشتو کښې شوې ګناه صرف ګناه نۀ ده بلکې د دې مبارکو مياشتو نا قدري هم ده- علمائے کرام فرمائي: الله پاک د اِسلامي کال وړومبۍ مياشت مُحَرَّم هم د حُرمت والا جوړه کړې ده، اخري مياشت يعني ذِي الـحِج يې هم د حُرمت والا جوړه کړې ده او پۀ دې حُرمت والا مياشتو کښې

يـې د ګناهونو نه د بچ کيدو حکم کړے دے، که مونږه په دې دوو مياشتو کښې د ګناهونو نه بچ شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د کال شروع به هم ښه کيږي او خاتمه به يـې هم ښه کيږي، د دې په برکت که الله پاک وغواړي نو ټول کال به د نيکو نه ډک تير شي- (1)

## مُحَرّم الـحَرام د توبې مياشت ده

په حديثِ پاک کښې دي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په مُحَرّم الـحَرام کښې يوه ورځ ده چې په دې کښې الله پاک د يو قوم توبه قبوله کړه او د نورو توبه به هم قبلوي- (2)

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې مُحَرّم الـحَرام د توبې مياشت ده- د روايتونو مطابق حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله زمکې ته تشريف راوړو نو هغوئي چې کومه جنّتي ميوه خوړلې وه، اګر که هغه ګناه نۀ وه خو

جن کے رُتبے ہیں سِوا اُن کی سِوا مشکل ہے

(څوک چې د اوچتې مرتبې والا وي، هغوئي خپلې په ظاهره معمولي خبرې هم لوئي ګڼي،) ځکه حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په دې باندې توبه وکړه او تر ډيرو کلونو پورې يـې ژړل، اخر الله پاک د هغوئي توبه قبوله کړه، په کومه ورځ چې د هغوئي دا توبه قبوله شوه، هغه د مُحَرّم الـحَرام مياشت وه او 10 تاريخ وو- (3)

## په ګناه باندې کلک ودريدل شيطاني عمل دے

علمائے کرام فرمائي: حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ګناه ونکړه، د هغوئي نه معمولي خطا وشوه، هغوئي په دې باندې هم ډير کلونه ژړل خو شيطان د الله پاک سخته نافرماني وکړه

[1]... لطائف المعارف، وظائف شهر الحرام، المجلس الاول، الفصل الاول، صفحه:47 و 48 ملتقطًا-

[2]... مسند امام احمد، جلد:1، صفحه:433، حديث:1348-

[3]... لطائف المعارف، وظائف شهر الله المحرام، المجلس الثانی فی يوم عاشوراء، صفحه:78-

بلکې د الله پاک په بارګاه کښې يې ګستاخي وکړه، په دې باندې هم پښيمانه نۀ شو، اُلټا يې ضد شروع کړو، نو الله پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د خلافت تاج عطا کړو چې هغوئي يې په زمکه کښې خپل خليفه مقرر کړو او په شيطان باندې لعنت وه وريدو۔

په دې کښې سبق دے چې څوک د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اولاد دے، هغوئي له پکار دي چې په ګناه باندې کلک نۀ ودريږي، ضد نۀ کوي بلکې د الله پاک په حُضُور کښې رښتوني توبه کوي۔ څکه مونږ له د توبې طرف ته تلل پکار دي۔

## 3 کرته د بخښنې د دُعا برکت

امام اَبُو اللَّيث سمر قندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: په مخکښينو اُمتونو کښې يو کَس وو، هغۀ ډير ګناهونه کړي وو، يو ځل هغۀ د خپل تير وخت په باره کښې سوچ وکړو، په ګناهونو باندې يې غور او فِکر وکړو (نو هغۀ پښيمانه شو، د پيښمانۍ په حالت کښې) هغۀ درې کرته ووئيل: اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَكَ، اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَكَ، اَللّٰهُمَّ غُفْرَانَكَ مولىٰ! ستا بخښنه-- الله پاکه! ستا بخښنه، اے الله پاکه! ستا بخښنه۔ په دې کښې هغۀ وفات شو او الله پاک د هغۀ ګناهونه وبخښل۔ [1] الله پاک دې مونږ ته هم د رښتوني توبې توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## مُحَرّم الـحَرام څنګه تيرول پکار دي ؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مُحَرّم الـحَرام تشريف راوړي، نوے اِسلامي کال شروع کيږي، څکه د کال شروع کيدو نه مخکښې مخکښې د رښتوني زړۀ نه توبه وکړئ! ❁ مُحَرَّم شريف د عبادت مياشت ده، په دې کښې ښه ډير عبادت وکړئ ❁ دا د نفلي روژو نيولو مياشت ده، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس د ټولو نه افضلې روژې د دې مياشتې دي، څکه ښې ډيرې نفلي روژې هم ونيسئ ❁ کم از کم د 9 او د 10 مُحَرَّم يا د 10 او د 11 مُحَرَّم روژه

[1]... تَنْبِيْهُ الْغَافِلِين، باب التوبه، صفحه:53۔

خو لازمي ونيسئ چې د رَمَضَانُ المُبَارَک روژې د فرض کيدو نه مخکښې دا دوه روژې فرض وې ❁ مُحَرّم الـحَرام خاص طور د کربلا د عظيمو شهيدانو ياد تازه کوي، ځکه د هغوئي د ايصالِ ثواب د پاره که کيدے شي نو هم پۀ وړومبو **10** ورځو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم وکړئ! که دا نۀ وي نو څۀ نا څۀ تلاوت ضرور وکړئ چې د قرآنِ کريم تلاوت د اِمام حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ ډير خوښ عبادت دے، د هغوئي د شهادت نه پس چې کله د هغوئي سر مبارک پۀ نيزه کښې پورته کړے شوے وو، بيا هم د سر مبارک نه د قرآنِ کريم د تلاوت اواز راتللو، مونږه د اِمامِ حُسين رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ غلامان دي پۀ کور کښې ناست يو، پکې يا اے سي ته دې پۀ ارام ناست يو او بيا دې هم تلاوت نۀ کوو--!! دا څنګه غلامي ده؟ ❁ پۀ وړومبي مُحَرّم الـحَرام د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ د شهادت ورځ هم ده، ځکه د هغوئي د ايصالِ ثواب هم ښه ډير انتظام وکړئ! کوشش وکړئ چې پۀ وړومبي مُحَرَّم خپل ټول کور والا راجمع کړئ او د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله **کراماتِ فاروقِ اعظم** ورته بيان کړئ! دغه شان پۀ نورو ورځو کښې **حُسينی دولها، امام حسين رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ کی کرامات** وغيره بيان کړئ! د خپل وَس مطابق د نياز انتظام هم وکړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي۔

د دې نه علاوه د مُحَرّم الـحَرام نور هم ډير نفلونه او اَوراد او وظيفې دي، د مکـتبة الـمدينه يو کتاب دے: **اسلامی مہینوں کے فضائل**۔ دا حاصل کړئ! که غواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه يـې ډاؤن لوډ کړئ! پۀ دې کښې د **12** واړو اِسلامي مياشتو فضائل او د دې مياشتو خاص عبادتونه ليکلے شوي دي۔

## د مُحَرّم الـحَرام يو خاص عمل

د مُحَرّم الـحَرام يو خاص عمل هم عرض کووم: پۀ وړومبي مُحَرّم الـحَرام **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم** 130 کرته [پخپله] وليکئ (يا يـې پۀ [بل چا] وليکئ او) د خپل ځان سره يـې کيږدئ (يا

يـې په پلاسټک کښې بنده کړئ او په کپړه، ريګزين يا څرمنه کښې يـې وګنډئ او په غاړه يـې کړئ! د دهات په ډبه کښې هيڅ قِسمه تعويذ مهٔ اچوئ) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!د داسې کولو سره به ټول عمر سره د کوره د بدو نه په حفاظت کښې يئ۔

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده *(Madani Qaida)* موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده (***Madani Qaida***) دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (***Click***) کوئ، په آډيو (***Audio***) کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په اسانئ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (***Practice***) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمئ په ګوته کول)

**مسئله:** پۀ مُحَرَّم کښې هم د نبيانو، وليانو او د نورو مسلمانانو د پاره فاتِحه کولے شئ-

**وضاحت:** پۀ عوامو کښې دا مشهوره ده چې پۀ مُحَرّم الـحَرام کښې صرف او صرف د کربلا د عظيمو شهيدانو د پاره ايصالِ ثواب او فاتحه وغيره لوستلے شي، د دې نه علاوه د بل چا د پاره فاتحه خواني، قرآن خواني وغيره نشي کيدے- دا بالکل غلطه خبره ده او پۀ شريعت باندې دروغ دي- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ليکلي دي: پۀ مُحَرَّم وغيره هر وخت، پۀ هره زمانه کښې د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام او د اوليائے عُظّامو رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِم د پاره نياز او د هر مسلمان د پاره فاتحه جائز ده، اګر که خاص د عاشورې پۀ ورځ (يعني پۀ 10 مُحَرَّم هم) وي- څوک چې دې ته غلط وائي هغۀ پۀ شريعت باندې دروغ وائي- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ دې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## يَاحَکَمُ

څوک چې پينځه وخته د هر نـمونځ نه پس 80 کرته يَاحَکَمُ لولي نو د چا محتاجه کيږي به نۀ- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

1... فتاویٰ رضويه، جلد: 24، صفحه: 499 بتغير قليل-
2... مدنی پنج سوره، صفحه: 249-